**د تدریس سترتیژیګانې**

| میتود یا تخنیک | تعریف | قوت | محدودیتونه |
| --- | --- | --- | --- |
| پر مخ تللی تنظیم کوونکی | د تدریس د موضوع عمده ټکي | د زده کړې لپاره چوکاټ برابروي<br>د وخت د کنترولونکي په څیر کار کوي | زده کوونکي تر فشار لاندې راوستلی شي<br>کیدای شي نرمښت ونلري |
| سمعي - بصري | په تدریس کې د ویډیو، چارټونو کمپوټرونو، پاور پواینټ او ډي وي ډي څخه کار اخستل | کیدای شي چې یوه سموونکې وسیله وي<br>مغلق نظریات (مفاهیم) تشریح کوي<br>په تکراري ډول استعمالیدای شي | ځانګړې وسایلو ته ضرورت لري<br>زاړه مواد<br>تخنیکي مهارت ته ضرورت لري |
| مغزي طوفان | یو ګروپي بحث چې د یوې ستونزې حل ته بیلابیلې لارې چارې ولټول شي | اعظمي برخه اخستنه هڅوي<br>نوښت (ابتکار) تقویه کیږي<br>په مختلفو اندونو (لیدونو) باندې غور کیږي | د اسانتیا برابرونکي اداره ضرور ده |
| ټولنیزه مشورتي منبع | په ساحه کې یو کارپوه څوک چې د ښوونې له پروسې سره مرسته کوي | اضافي مهارت/پوهه برابروي<br>تدریس غښتلی کوي | د اهل او پوهو متخصصینو کمښت<br>لګښت یې ډیر وي<br>ښایي تدریس غښتلی نه کړي |
| پرتلیزه شننه (مقایسوي تحلیل) | د مختلفو، اشخاصو، ځایونو او شیانو پرتله کول | د لوړ تفکر مهارت کارول کیږي | د زده کړې لازمو شرایطو ته ضرورت لري<br>ځانګړو تدریسي مهارتو ته اړتیا لري |
| د کمپوټر په مرسته تدریس | له اړونده کمپوټري پروګرام (سافټ ویر) سره کارکول | کیدای چې انفرادي او یا ګروپي کار وي<br>تدریس غښتلی کوي | کیدای چې په سمه توګه ونه کارول شي<br>کیدای شي چې وسایل/پروګرام موجود نه وي<br>کیدای شي چې تخنیکي مهارت موجود نه وي<br>یو جلا ځای ته اړتیا لري<br>کار ښایي د بل چا لخوا ( بې اجازې ) کاپي/تقلید شي |
| کنفرانس | کوچنی ګروپي یا یو په یو مباحثه | فوري غبرګون رامنځ ته کوي<br>د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ اړیکي رامنځ ته کوي<br>محرمیت راپیداکوي | د وخت او ځای ستونزې لرلی شي<br>کیدای شي چې د صنفي کارونو سره په مناقشه کې شي |
| تړون کول | د متوقعه سلوک او نتایجو په هکله د | زده کوونکي د ملکیت ادراک کوي | د قرارداد ماتیدل ممکن دي (چې په سمه توګه عمل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ښوونکي او زده کوونکي تر منځ قرارداد | څرګند توقعات مطرح کیږي | پرې ونه شي) |
| تعاوني یا اشتراکي زده کړه | د کوچنیو ګروپونو لخوا د صنف نور غړو سره د معلوماتو شریکول، د نظریاتو تحلیل، او د مفاهیمو تدریس کول | د زده کوونکو د رهبري مهارت پکې کارول کیږي<br>له خپلو همزولو زده کړه کیږي<br>د ستونزو د حل مهارت پکې استعمالیږي<br>ټولنیز مهارتونه پکې غښتلي کیږي | شخصي منازعات ممکن دي<br>نا برابره همکاري (ونډه) امکان لري<br>ښایي په دنده تمرکز پاته نه شي |
| مناظره | د اړونده موضوع په هکله د خپل دریځ د حمایت لپاره د حقایقو او شواهدو وړاندې کول دي | ژور فکر پکې استعمالیږي<br>د نورو په وړاندې د خبرو کولو مهارتونه پکې کارول کیږي | اسانتیا برابرونې او اماده ګی ته ضرورت لري<br>د حالت د بدلیدو(خرابیدو) احتمال پکې شته دی |
| تشخیص/د ستونزو تشخیص | زده کوونکو ته یوه ستونزه ورکول چې هغه یې باید حل کړي | ژور فکر پکې استعمالیږي<br>د ستونزو د حل مهارت پکې استعمالیږي | د معلوماتو ځانګړو منابعو ته ضرورت لري<br>لازمې پوهې او مهارت ته ضرورت لري<br>کیدای شي ځانګړو وسایلو ته ضرورت پیدا شي |
| مستقیم غبرګون | په یو تدریسي فعالیت کې زده کوونکي ته د اجراتو په هکله فوري معلومات ورکول کیږي | فوري ملاتړ برابریږي<br>کم وخت ته اړتیا لري | په لوی ګروپ کې یې تطبیق مشکل وي |
| مستقیمه مشاهده | یو میتود دی چې د زده کوونکي توجه متمرکزه کوي | تمرکز رامنځ ته کوي<br>تیروتنې محدودوي | شاید مداخله پکې محدوده وي |
| مباحثه | په یوه موضوع متمرکزه شفاهي مفاهمه | د ستونزو د حل مهارت پکې استعمالیږي<br>بیلابیل اندونه راپیدا کیږي | یو مؤثر اسانتیا برابرونکي ته ضرورت لري |
| ښودنه | د یو انځور، چارت، یا کومې بلې بصري وسیلې ښودل | نوښتیزه (ابتکاري) او هڅوونکي وي<br>زده کړې ته ښه قوت بښونکي وي | وخت نیونکي وي<br>په دوراني ډول تازه کولو ته اړتیا لري |
| تمرین/مشق | په باقاعده توګه یو فزیکي یا ذهني تمرین دی چې کوم ځانګړی مهارت ترسره او بشپړ شي | پخواني تر لاسه شوی مهارتونه غښتلي کوي<br>د مختلفو کچو لپاره په اسانی خپلیدای شي<br>په ځان باور غښتلی کوي<br>بریاوې هڅوي<br>د بدلیدونکي فعالیت په توګه کار کوي | شاید چې په سمه توګه ونه کارول شي |
| تجربه | د یو عمل، پروسې او تمرین امتحان کول یا ازمایل | ښایي ابتکاري / پلټونکي وي<br>عملي وي<br>د نظریو پلي کوونکي وي | وخت ته ضرورت لري<br>ښایي لګښت یې زیات وي<br>کیدای شي چې دقیقه نتیجه ترې په لاس را نه شي |
| ساحوي تجربه | د کار په سر(د دندې پر مهال) روزنه کې ګډون یا مستقیمه مشاهده | عملي مداخله ترسره کیږي<br>پوهه او مهارت سره یو ځای کیږي<br>مسلکي پلټنه رامنځ ته کیږي | کیدای شي چې د سوپروایزرانو کمښت موجود وي<br>ښایي چې د شاګرد مسلک سره برابره نه وي<br>ارزونه یې مشکله ده<br>شاګرد شاید د زده کړې مناسبه تجربه تر لاسه نه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | کړي |
| ساحوي سفر | زده کوونکی له مخصوص ځای څخه لیدنه او مشاهده تر سره کوي. | حقیقي حالت مشاهده کیدلای شي.<br>تمرکز رامنځ ته کوي | وخت، مالي او د حمل او نقل منابع پکي دخیلي وي. |
| لوبې | د اصولو سره سم یوه فزیکي یا فکري سیالي تر سره کیږي | مهارتونه کارول کیږي<br>کیدای شي چې تشویقونکي وي | ښایي تعمق پکي موجود نه وي<br>شاید چې وخت نیونکي وي<br>کیدای شي چې سرسري یا ظاهري وي |
| ګروپي کار | دوه یا ډیر نفر یوځای کول چې یو کار تر سره کړي | یو له بله زده کړه کوي<br>ډلییز کار ته اړتیا لري<br>د ستونزو د حل مهارت پکي استعمالیږي | ښایي پر موضوع متمرکز پاته نه شي<br>شخصي منازعات رامنځ ته کیدل امکان لري<br>اداري/رهبري ته ضرورت لري |
| میلمه ویاند | د خبرو لپاره یو صنف، ټولنیزې غونډې، یا محفل ته د یو شخص رابلل | مهارتونه زیاتیږي<br>زده کړه قوت مومي | د کیفیت کنترول شاید مشکل وي<br>کیدای مصارف ولري |
| کورنۍ دنده | زده کوونکي ته د ټولګي څخه د بهر لپاره یو کار ورکول کیږي | د صنف زده کړه بشپړوي<br>زده کړه غښتلي کوي<br>تمرین / مشق برابروي<br>مهارتونه ښه کوي<br>والدین دخیلوي | د ښوونکي غبرګون\نظر نه وي موجود |
| ازاده مطالعه | د یوې خاصي ستونزې انفرادي پلټنه | د معلوماتو د ملکیت ته اجازه ورکوي<br>تعهد او تشویق ښه کیږي<br>د زده کوونکي دخالت ډیریږي<br>شاګر په خپله طبع (سرعت) کار کوي | د کیفیت کنترول شاید مشکل وي<br>ښایي تشویق موجود نه وي<br>په موضوع پاته کیدل ښایي مشکل وي |
| غیر مستقیم غبرګون | ښوونکی شاګرد رهنمایي کوي چې د ځان لپاره ځواب راپیدا کړي | د ستونزو د حل مهارت پکي استعمالیږي<br>محافظه زیاتوي | کیدای شي چې اضافي وخت او منابعو ته ضرورت شي |
| دنده څارل | زده کوونکی له یو کارمند سره له یو اړونده کار ځای څخه لیدنه کوي چې د مخصوصي وظیفي په هکله زده کړه وکړي | ځانګړي دندې ته متوجه کیږي<br>د پروسي او بهیر څخه مشاهده صورت مومي | روزل شوی سوپروایزر ته اړتیا ده<br>د وظیفي د ځای پیدا کول مشکل وي<br>کیدای چې د پراختیا له لحاظه محدود وي |
| د لابراتوار کار | یوه پر لاس طریقه ده په کومه کې چې شاګرد د وسایلو، ماشینونو، او سامانونو په کارولو سره درس زده کوي | نظر تطبیقیږي<br>د ستونزو د حل مهارت هڅول کیږي<br>نوښتیزه او پلټونکي وي<br>عملا تطبیق صورت مومي | شاید ډیر لګښت ولري<br>تخنیکي تازه معلومات ضروري دي<br>ډیر وختونه ځای ته ضرورت لري |
| د زده کړې مرکز | یو وړاندې تنظیم شوی ځای چېرته چې زده کوونکی اضافي مرسته او تشویق ترلاسه کوي | کیدای شي چې ګروپي یا انفرادي فعالیت وي<br>کیدای شي چې په خپله خوښه زده کړه وي | د اماده ګی وخت ته ضرورت دی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| لچکر | ښوونکی مواد په شفاهي توګه وړاندې کوي کوم چې ښايي د ښوونيزې رسنۍ سره مل وي تر څو تفاهم ډېر کړي | ډېر معلومات ژر خپريږي<br>ښه عمومي نظر راپيدا کوي | کيدای شي په سمه توګه و نه کارول شي |
| ماسټري زده کړه | ښوونکی مقاصد ټاکي او له شاګردانو غوښتنه کوي چې يو درس ښه زده کړي مخکې له دې چې بل درس ته ولاړ شي | زده ګړه د پخوانۍ زده کړې پر بنسټ صورت وموي<br>فوري غبرګون ورکوي | ځانګړي مهارت ته ضرورت دی<br>ښايي پراخ وخت ورله پکار وي<br>په تفصيل سر د وسايلو رامنځ ته کول ضروري دي |
| Mnemonics | د ياداښت هغه سيستم چې د يوځای کيدني په کارولو سره شاګردانو سره مرسته کوي چې حقايق او پروسې را په ياد کړي. | ابتکار غښتلی کوي<br>ځانګړی شوی وي | د خاص حالت سره وي |
| موډل/تقليد | يوه دوامداره پروسه ده چې د مثال پواسطه تدريس کيږي | د مثال په واسطه زده کيږي | د ناسم مثال وړاندې کوونې امکان شته |
| ياداشت نيول | زده کوونکي هغه معلومات چې ضروري وي ياداشت کوي چې بيا وروسته ورته لاس رسي کيدای شي | محافظه يا ساتنه زياتيږي<br>موضوع ته قوته وربښي<br>پوهه تنظيموي<br>د بيا کتنې تخنيکونه قوي کوي | ښايي په دې ونه توانيږي چې معلومات يا شفاهي مفاهمه پروسيس کړي<br>ليکل کيدای شي مشکل وي |
| جوړه تدريس | هغه زده کوونکی چې په موادو پوهيږي له بله ملګري سره د موادو په زده کړه کې مرسته کوي | د ځان قدر رامنځ ته کوي<br>ښه سموونکي وسيله ده<br>مداخلت ته وده ورکوي<br>وخت په مؤثره توګه کارول کيږي<br>زده کړه غښتلې کوي | د ښوونکي پوهه ښايي محدوده وي<br>مشکله ده چې ښوونکی او زده کوونکی سره برابر وي |
| د ستونزو حل | يو ګروپ يا فرد ددې تمرين کوي چې نتيجې ته د رسيدو لپاره د لوړې زدکړې مهارتونه استعمال کړي | د ګڼو شاګردانو لپاره کارول کيدای شي.<br>په روزمره ژوند کې د تطبيق وړ ده | شايد لازمو اساسي مهارتونو ته سرسري کتنه وشي |
| پروګرام شوی تدريس | د شاګرد د تدريس ، قوت او يا اصلاح لپاره د ځانګړو شويو وسايلو استعمال | فوري سموونه رامنځ ته کوي<br>په خپله طبع (چټکی) ده<br>په اوسني حال پاته کيدل اسان دي | د وسيلې رامنځ ته کول ضروري دي |
| پروژې | ګروپونه يا افراد مختلف زده کړي مهارتونه د ځانګړي محصول د رامنځ ته کولو لپاره تطبيقوي | د مهارتونو تطبيق پکاريږي<br>د ستونزو د حل مهارتونه پکاريږي<br>پوهه او مهارتونه سره ګډوي | وخت او مالي منابعو ته اړتيا لري |
| لوستل | د ليکل شويو موادو په کار اچول چې ځانګړي معلومات زده شي | پوهه په خپله تر لاسه کيږي<br>کيدای شي چې تفريحي وي<br>انفرادي شوی وي | کيدای شي د هغه شاګردانو لپاره وي مشکل وي چې د لوست توان ونلري (معذور وي) |
| تفريح | ساعت تيری يا يو سپورتي فعاليت | زده کړه غښتلې کوي | ښايي مقاصد نظر انداز شي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| څېړنه او/یا انکشاف | د پلټنې فعالیت چې شاګرد پکې د مختلفو منابعو ته رسیده ګي کوي د کتبي منابعو او یا تجربو له لارې | له مختلفو متخصصینو پوهه تر لاسه کیږي<br>د تحلیل ، تصور، څیړنې او ترکیب کونې یا ګډونې مهارتونه پکې په کار اچول کیږي<br>وسیع زده کړه تر سره کیږي | شاید لازمو اساسي مهارتونو ته سرسري کتنه وشي |
| بیا کتنه/تکرار | زده کړي مهارت/پوهې دوباره کتنه | زده کړه غښتلې کوي | د ارزښتناکو تجویزونو نه موجودیت<br>د مفوهم له نظره محدود |
| نقش لوبونه | د یو ځانګړي حالت په تمثیل/ښودلو سره د حلالارو پلټنه | احساسات پکې دخیل وي. تفاهم غښتلی کوي<br>عامه وینا (د نورو په وړاندې خبرې کول) پکې کارول کیږي | شاګردان ښایي د دخیل کیدو څخه ویره ولري<br>ښایي چې برخه اخستنه پکې موجود نه وي |
| سیمینار | د یو موضوع دخاص برخې متمرکزه مطالعه | ښایي چې مسایل له مختلفو نظرونو تجربه شي<br>د موضوع په هکله وسیع پوهه ښایي تر لاسه شي | زده کړې ته اماده ګي شاید یو مشکل وي<br>وخت ته ضرورت لري |
| سوکراتیک میتود/د پوښتلو تخنیکونه | د مباحثو د هڅولو/مفکورو د تحریکولو لپاره د رهنمایي کونکو پوښتنو کارول، | زده کړه انفرادي کوي<br>د معلوماتو د ملکیت هڅونه کوي<br>ځپلواکي تدریسوي<br>د فکر کولو مهارت قوي کوي | د پوښتنو څرنګوالی (کیفیت) شاید یوه ستونزه وي<br>د اسانتیا برابرولو لپاره یو مشکل تخنیک دی |
| معلوماتي شخص | د معلوماتو، موادو، تخنیکونو او یا مرستې لپاره د متخصص شخص څخه کار اخستل | تخصص زیاتوي<br>د موضوع سره مرسته کوي<br>تدریس انفرادي کوي | د متخصصو اشخاصو موجودیت ښایي محدود وي.<br>شاید چې پوهه محدوده وي |
| د زده کونکي پریزینتیشن | یو فرد یا ډلې ته کتبي، شفاهي او تصویري لارې د معلوماتو ورکول | د عامه وینا تمرین ته اجازه ورکوي<br>د وړاندې کوونکي محافظت ډیروي | د پوهې محدودیت ښایي یو مشکل وي<br>ښایي مرستې یا اصلاح ته اړتیا وي |
| د ښوونکي نمایش | یو فرد یا ډلې ته له کتبي، شفاهي او تصویري لارې د معلوماتو ورکول | زده کوونکي له پیله تر پایه پروسه یا بهیر ګوري<br>نمایش تشویق کیږي<br>د تیروتنو لپاره د اقداماتو مخه نیول کیږي | د زده کوونکو لخوا مداخله محدوده وي<br>کیدای شي په لیدو کې مشکل موجود وي<br>ښایي د نظم او ډسپلین ستونزې رامنځ ته شي<br>د اماده ګي لپاره وخت پکار دی |
| ډلییز تدریس | د یوه شریک مقصد په لورد دوه یا څو نفرو د یوې ډلې لخوا د ډلییزو هڅو له لارې تدریس | د ښوونکو تر منځ همکاري او د نظریاتو شریکول تشویقوي<br>د تدریس مختلف ډولونه | شاید شخصي منازعات رامنځ ته شي<br>د تدریس مساوات او برابري شاید یوه ستونزه وي |
| کاري ورقې (ورک شیټس) | خاص نمونه یي کار یا ستونزې چې باید حل شي | مشق او تمرین ته اجازه ورکوي<br>زده کړه غښتلې کوي | مشاهده کیدای شي<br>کیدای شي چې سرسري وي |